# د ځلورګونو قواعو متن

د علامه محمد بن عبدالوهاب -رحمه الله-
لیکنه



شركاء التنفيذ:

دار الإسلام | جمعية الربوة | رواد الترجمة | المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.


Telephone: +966114454900

ceo@rabwah.sa

P.O.BOX: 29465

RIYADH: 11557

www.islamhouse.com

## د الله په نوم پیل کوم چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی

له مهربان ذات الله نه، چې د لوی عرش پروردګار دی، غواړم چې په دنيا او اخرت کې تا په دوستی ونيسي.

او چې هر چېرته يې مبارک دې وګرځوي، او له هغو خلکو دې وګرځوي چې کله څه ورکړل شي شکر باسي، او که وازمويل شي صبر کوي، او چې ګناه وکړي ببښنه غواړي، ځکه دا درې د نېکبختی دليلونه دی.

پوی شه الله دې تا خپل طاعت ته برابر کړي، چې ابراهيمي ملت حنيفيت دا دی: چې ته يوازې د الله عبادت وکړې، دين تنها هغه لره کړې، لکه الله تعالی چې فرمايي: **(او ما پېريان او انسانان يوازې د دې لپاره پيدا کړي، چې زما عبادت وکړي)**. [الذاريات: ۵۶]

نو چې په دې پوی شوې چې الله ته یوازې د هغه د عبادت لپاره پیدا کړی یې، نو پوی شه چې عبادت ته تر هغه عبادت نه ویل کیږي چې توحید ورسره نه وي، لکه لمانځه ته چې له پاکی پرته لمونځ نه ویل کیږي، نو کله چې شرک پر عبادت ورګډ شي؛ عبادت فاسد شي، لکه پر پاکوالي چې بې اودسي ورګډه شي، نو چې پوی شوې چې شرک چې کله پر عبادت ورګډ شي فاسدوي یې او عمل له منځه وړي، او کوونکی یې د تل لپاره دوزخي کیږي، نو پوی شوې چې پر تا اهم شی د دې پیژندل دي، بنایي الله تا له دې دامه وساتي، چې هغه له هغه الله سره داسې شرک کول دي، چې الله یې په اړه ویلي دي.

**(بې شکه الله دا نه ببښي چې له هغه سره شرک وکړی شي او له دې پرته چې یې چا ته خوښه شي ببښنه کوي).** [النساء: ۱۱۶]

او دا پیژندنه پر څلورو قاعدو د پوهېدو له لارې کیږي، چې الله تعالی په خپل کتاب کې ذکر کړې دي.

## لومړۍ قاعده:

چې ته پر دې پوی شې چې هغه کفار چې د الله رسول -صلی الله علیه وسلم- ورسره وجنګېد، دا یې منله چې همدا الله تعالی پیدا کوونکی او کارساز دی، خو دې بیا هم په اسلام کې داخل نه کړل، او دلیل یې د الله تعالی دا قول دی: **ورته ووایه: له اسمان او ځمکې نه څوك تاسو ته روزي درکوي او دا د اوربدو او لیدو واك د چا په لاس کې دی او څوك دی چې ژوندی له مړه راوباسي او مړی له ژوندي راوباسي او د کارو انتظام څوك کوي؟ نو ژر به ووایي چې: الله. نو ورته ووایه: ایا نو تاسو نه وېرېږئ.** [یونس: ٣١]

## دويمه قاعده:

دوی وايي: موږ دوی (شريکان) يوازې الله ته د نږدېکت او شفاعت په خاطر رابولو او مخ وراړوو، د نږدېکت دليل د الله دا قول دی: **او کومو خلکو چې له هغه پرته نور چارواکي نيولي (او وايي چې موږ خو د دې شيانو لمانځنه صرف د دې لپاره کوو چې الله ته مو په مرتبه کې ورنژدې کړي. بې شکه الله به د دوی تر منځ په هغه څه کې فيصله کوي چې د دوی په کې اختلاف دی، يقينا الله هغه چا ته هدايت نه کوي چې دروغجن او ناشکره وي.** [الزمر: ۳].

او د شفاعت دليل د الله تعالی دا قول دی: **او هغوی له الله نه پرته هغه څه لمانځي چې نه څه زيان وررسولای شي او نه څه ګټه او دوی وايي چې دا د الله په وړاندې زموږ سپارښتګر دي.** [يونس: ۱۸]

شفاعت په دوه ډوله وي، يو منفي او بل مثبت.

**منفي شفاعت:** چې يو داسې شی له الله پرته له بل چا غوښتل کیږي، چې يوازې الله پرې قادر وي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی: **ای مومنانو! ولګوئ له هغه (مال) نه چې موږ در روزی کړی، له هغې ورځې راتلو نه مخکې چې نه په کې اخيستل خرڅول شته، نه ملګرتيا او نه سپارښتنه او کافران خو (په خپله) ظالمان دي.** [البقرة: ۲۵۴]

**مثبت شفاعت:** هغه دی چې له الله څخه غوښتل کيږي او شفاعت کوونکی په شفاعت نازول شوی وي، او د چا چې شفاعت کيږي، داسې څوک وي چې له اجازې وروسته يې الله له وينا او عمل څخه راضي وي، لکه الله چې فرمايلي: **دا به څوک وي چې د هغه له خوښې پرته د چا سپارښتنه ورته وکړي؟** [البقرة: ۲۵۵]

## دریمه قاعده:

نبي -صلی الله علیه وسلم- په داسي خلکو کي راښکاره شو، چي ځان ته يې عبادتونه کول، چا د پرښتو عبادت کاوه، چا د پیغمبرانو او نېکانو، چا د بوټو او تیږو عبادت کاوه او چا د لمر او سپوږمۍ عبادت، د الله رسول -صلی الله علیه وسلم- له ټولو سره وجنګېد، بې له دې چې تر منځ يې توپیر وکړي؛ دلیل يې د الله دا قول دی: **او تر هغه ورسره وجنګیږئ، چې هیڅ فتنه پاتې نه شي او ټول دین د الله لپاره شي.** [الأنفال: ٣٩]

او د لمر او سپوږمۍ دلیل د الله تعالی دا قول دی: **او د هغه له نښانو څخه شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ده، مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ**

**ته، او (صرف) هغه الله ته سجده وکړئ چې هغه (ټول) يې پيدا کړي دي، که چېرې تاسو يوازې هغه لمانځئ.** [فصلت: ٣٧]

د پرښتو د عبادت دليل د الله دا قول دى: **او هغه داسى امر نه درته کوي چې ملايکى او نبيان خدايان ونيسئ...** الآية [آل عمران: ٨٠].

د پيغمبرانو د عبادت کېدو دليل د الله دا قول دى: **کله چې الله ووېل: اى عيسى د مريمې زويه! آيا تا خلکو ته ويلي و چې له الله نه پرته ما او زما مور هم دواړه په خدايۍ ونيسئ؟ ويلې: تا لره پاکي ده! زما خو دا کار نه و چې داسې څه مې ويلي وى کوم چې ما ته حق نه و، که ما څه ويلي وى نو ته خامخا ورباندې پوه يې، ته په هغه څه ښه پوهېږې چې زما په زړه کې دي او زه په هغه نه پوهېږم چې ستا په نفس کې دي، بې شکه همدا ته په غيبو ښه پوهېدونکى يې.** [المائدة: ١١٦]

د نېکانو خلکو د عبادت دليل د الله تعالى دا قول دى:

**دوى چې چا ته بلنه ورکوي هغوى خو په خپله د**

**خپل رب لور ته وسیله لټوي چې کوم یو (هغه ته) ورنژدې دی او د رحمت هیله یې کوي او له عذابه یې ویرېږي.** [الإسراء: ٥٧]

د ونو او ډبرو د عبادت دلیل د الله دا قول دی: **آیا تاسې لات او عزی لیدلي؟ او بل دریم منات؟** [النجم: ١٩، ٢٠]

**او د ابو واقد اللیثي -رضي الله عنه- حدیث دی، هغه وایي: موږ له نبي -صلی الله علیه وسلم- سره حنین ته ووتو، او موږ کفر سره په نږدې وخت کې وو (نوي مسلمان شوي وو) او مشرکینو یوه ونه درلوده، چې هغې سره یې عبادت کاوه او خپلې وسلې یې په کې راځوړندولې، دې ونې ته «ذات أنواط» ویل کېده، نو چې موږ په دې ونه تېر شو ومو ویل: ای د الله رسوله، موږ ته هم دغسې یوه د ځوړندېدو ونه معلومه کړه لکه دوی یې چې لري.**

حدیث

## څلورمه قاعده:

زموږ د وخت مشرکان له پخوانیو ډېر بدتر دي، ځکه پخواني داسې وو چې د پراخۍ وخت کې يې شرک کاوه، خو چې تنګستيا به پرې راغله بيا يې خالص توحيد کاوه، خو زموږ د وخت مشرکان په پراخۍ او تنګستۍ دواړو کې دايمي شرک کوي، دليل يې د الله تعالى دا قول دى: **دوى چې کله په بېړيو کې سپاره شي نو په داسې توګه الله رابولي چې عقيده يې يوازې هغه لره سوچه کړې وي، خو کله يې چې وچې ته راخلاص کړي، يو دم ورسره شرک کوي.** [العنکبوت: ۶۵]

والله أعلم.

**وصلى الله على محمد و على آله وصحبه وسلم.**